

## محب الرحمن « خطیبي »

د نشر نیټه : ۲۰ مارچ ۲۰۱۴ میلادی

ګرانو دوستانو :

هیله کوم دا شعر ولولي تر آخره یي ولولی! ډیر ښکلی شعر دی . د سیرالیون Siera Leone نامتو شاعر ګاستون بارت – اولیامس ۱۹۳۸ دا ښکلی شعر لیکلی چی ما وژباړه....

محب الرحمن « خطیبي »

# د تور زوی لیک مورته له ویتنامه

ګرانی مور ،
الحمدالله ،
ما خو ویتنامیان ووژل،
او سپین کپتان
ماته وویل آفرین
ته قهـــــــرمان یی ،
او کله ډیر زیاد ووژنم،
نو هغه هرومرو ماته مدال راکوی
نوبیا نور هم ډیر وژنم دا ویتنامیان
چی بیا کپتان هرومرو زما انظور ورځپانو کی خپروی
او ته په ما ، پخپل زوی فخر به وکړی،
دټول امریکا قهرمان !
دلته هیڅوک تور ته ده رنګ په خاطر څه شی نه شی ویلی
د جنګ په ډګر کی د رنګه نژاد* مړی پراته دی

تاسو خبر یاست چی : کاسیوس کلی * حاضر نه شو ویتنام ته راشی
ولی ، ستا زوی قهرمان دی،
او که نور هم ډیر خلک ووژنم
نوځما نوم به سپینی مانۍ ته واستول شی
کیږی ولسمشر ځما نوم وپیژنی
کیږی کوم ورځ پخپله ماته مډال راکی
او ووایی.-
امریکا په تا فخر کوی
« خدای تا سره دی بچیه »
او زه به پخپل مډال نازیږم پخپل ښار کی
په دیترویت ، نیویارک او الباما کی -
او زه وینم تور مړی په وینو ککړ
او خپل مړه شوی ورونه به می ویتنام کی په یاد راولم.
ګرانی موری،
توری موری
خپل تور زوی ویتنام کی وبښه!
زه کاسیوس نه یم،
وبښه
زه خو، ته پوهیږی چی محمـــدعلی نه یم ،
زه بلاخره ښه پوه شوم،
چی زه ناپوهه
بیسواده
بی عقله
او همداسی نور یم
څه چی زه دلته کووم
هغه یواځی له دی لپاره چی
امریکایی شم،
باعقله،با کلتوره
ریښتینی بچی د امریکا
ته پوهیږی مورجانی -
که رنګ د پوټکی می تور او ویختان می تاو،پیچ نه وای
زه به ډیر خوشبخت هلک وم!
کنی جوړ شوی ویختان سل ډالره خرڅیږی
او د سپینولو رنګ کریم بیه پنځه ډالره ده
او که دا شیان هم مرسته ونه کړی
نو ښه به داوی چی
مورجانی
همدلته پاتی شم ، د اجنبیانو قبرستان کی
او که زه دلته مړ شم
ته پوه شه

چی زه دلته امریکا لپاره مړ شوم
طالع مند به یم که چیری د امریکا بچی وشمیرل شه.
او که زه جګړه کی
لکه په
نیویارک کی
یا میسیسی پی کی
یا دیترویت کی
او یا په چیکاګو کی
یا هر بل ښار کی مړشم
نو پوه شه مورجانی
چی ولسمشر ما به قهرمان ونه بولی
او څما سپین کپتان
به ما آسمانونو ته جیږ نه کړی
څما کوندی به ما پسی دغم بدلی نه وایی
هغوی به وایی ښه به وو چی ،
ستا زوی په ویتنام کی وژل شوی وی
وبښه موری ،
زه پوهیږم ،
چی زه بی عقل یم
نا پوه یم
او بي ادبه او شډل یم
زه پوهیږم
زه ډیر ښه پوهیږم
زه باید خپلو وطنوالو سره مرسته وکړم
چی د ویتنامیانو د نابود کولو پلان
سر ته ورسیږی.
ما پسی مه ژاړه
توری موری،
څما امریکانیزم باندی مه ژاړه
بلادی امریکا پسی!
ددوی ډزی نه آرامیږی
ددوی نفس ښکل اوس هیروشیما ته هم ورسیده
دد وی د غړمبهار آوازونه په افریقا باندی آلوزی
په یاد راوله موري
هر چیري چي زمونږ ورونه اوسی هلته به ددوی چیغی آوریدل کیږی
او تاته ښه معلوم دی علت
چی ده څه لپاره او ولی .
له تا ببښنه غواړم
ګرانی موری
ستا تور بچی
باید هر څومره چی کولای شی ویتنامیان ووژنی !

پوهیږی ته موری؟
زه دلته گواکی آزادی لپاره جنگیږم
زه دلته دخدای لپاره جنگیږم
پوهیږی
زه زړور یم چی دلته ویتنامیانو سره جگړه کوم
زه دلته د مرمیو د آلوتلو غږ آورم
زه بیا او بیا د ویتنامیانو وژل زیاتوم
مهربانی موری
دا رښتیا ده چی زه دی پردی ملک کی مرگ غواړم
په دی پردی قبرستان کی
له دی نه چی په نیویارک کی مړ شم
ته خو به پوهه شوی یی چی ولی داسی عجیبه هیله لرم !
گرانی موری ته پوهه شه
چی ستا زوی په رښتیا
بی ادبه ، بی عقله
ناشکره او بیرا دی
او سربیره په دی دهرچا په خبره ، لوچک او لنډغر دی
خدای دی تا وبښی موری !
پوهیږی مورجانی
زه هغو خلکو ته احترام او دراناوی ساتم
چی خپل روح خدای ته خپل کور کی ورکوی
خپل بستر کی.
اونه پردیو ملکونو کی......
په تا گران زوی
بی ادبه ، بی عقله
نا شکره او بیرا دی ....

*********

* رنگه نژاد ـ ویتنامیان او دهند وچین نژاد
*کاسیوس ـ دمحمد علی کلی نوم مخکی له مسلماتی نه

****

محب الرحمن « خطیبي »
۲۰۱۳

بازگشت به صفحه اصلی - WWW.SAID-AFGHANI.ORG